مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند
۲۰۲۰/۰۵/۲۸

# داسې يې وګڼه چې لوېږي اسمان



داسې يې وګڼه چې لوېږي اسمان
هغه شيبه چې وفا ونکړې وعدې باندې دې

داسې يې وګڼه چې لوېږي اسمان
چې مخه ښې په وخت کې موسکه نه شي و نه خاندې

داسې يې وګڼه چې لوېږي اسمان
چې ته رقيب ته سترګو کونج کې نيم نظر هم وکړې

داسې يې وګڼه چې لوېږي اسمان
چې د تګ وخت کې د «تربيا» توری و نه وايې ته

داسې يې وګڼه چې لوېږي اسمان
چې دې د مخ سپوږمۍ ښکاره نه کړي رڼا ونه کړي

۲۰۲۰/۰۲/۲۶
کوپنهاګن
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ